




## د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغاني » ليکنه

د نشر نيټه : 16 جون 2017 م

# څه وکړو!

زما په نظر لازمه ده چه د تعليم و تربيې پروګرامونو سره ، د اخلاقي پانګه ته بايد ډيره اساسي توجه وشي ؛ ځکه دلته لاڅه چه په ټوله دنيا کښې اخلاقي پانګې خرابيږې، او څومره چه په تخنيکي ، صنعتي ، زراعتي او نور بخشونو کښې پرمختګ شوى دى ، هغومره د اخلاقي مهمې پانګې سره بې اعتنائي کيږې.

نو راځې چه مخکې دهغه نه چه زمونږ د اخلاقي پانګې دارائې ټوله برباده او دلاسه و لاړه شي ؛ يوتربله سره په صادقانه ډول کينو او يوتربله په سليم عقل او منطق ، خبرې ته غوږ و نيسو، تعميق وکړو چه زمونږ د خلکو د خير او فلاح د پاره څه وکړو.

بل اساسي ټکى دا دى چه :

په يو قوم او جمعيت کښې بې اعتنائى او بې اعتمادى دواړه مزمن او تباه کونکي امراض دي ؛ نو د پوه او خيرخواه شخصيتونو ايماني ډنده دا ده ترڅو د تفاهم ، اعتماد او اخلاصمندى ريښې قوي وساتى او د بې اعتنائى مرض سره چه د تباهى موجب ګرځى ، په معقوله او د ښه سالم منطق پربنياد ؛ د خپلو د خير او سلم اخلاقي مجادلو ته په دوامداره ډول ، قوت او شدت ورکړي.

سعيد افغاني

د سرطان مياشت ، د ۱۳۳۷ هجري شمسي کال ـ ننګرهار

ترتيب كوونكى : برهان الدين « سعيدى »

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی